انجنیر عبدالوکیل متین

# ستر مشر زماني صاحب ته

ته له مهره ډک زړگی ئې ته نشان د شفقت ئې
ته احساس د ژوندو هیلو ته مثال د محبت ئې
ستا زړگی دی ډک له مینې ته مین په اولسونو
ته مین په خپله خاوره ته مین په افغان پت ئې
له اخلاصه ډک نیکه ئې ته یو پلار ئې مهربانه
مشاور د خپل پردو ئې ته هر چاته بصیرت ئې
ته مجنون د خپل وطن ئې ستا لیلا د وطن مینه
ته اواز د مینانو ته عاشق د خپل ملت ئې
مصور غزلسرا ئې ته خاوند د قلمونو
ته ساقي د ډېرو ترږو ته مالیار د طبیعت ئې
هر غزل دې گواهي کړي په ستم د ستمگرو
ته فریاد د مظلومانو ته مین په عدالت ئې
ته ئې مشر د هر کشر ته همدم د بې دمانو
ته ځما مشر کاکا ئې افتخار ئې برکت ئې
د متین په یتیم وس کې نور څه نه شته دا دعا ده
خدای دې ډېر عمر نصیب کړه ستره پانگه د الفت ئې

د ښاغلي سیداگل غریبیار د افغاني ادب مخکښانو په پروگرام کې د محترم محمد هاشم زماني صاحب د پروگرام په ویاړ وویل
شو. جون-۱۹-۲۰۰۴